DATE: DAY:

سوال نمبر 7

## اولسي ادب څه ته وائي:

اولسي ادب هغه ادب ته وائي کوم چې په لیکلو حالت کښې نه وي موجود، د کوم چې لیکوال نه وي معلوم او کوم چې سینه په سینه د یو نسل نه بل نسل ته منتقل شوي وي۔

## د اولسي ادب اصناف:-

1) ټپه (2) لوبه (3) سندره

4) بدله (5) نیمکۍ (6) چاربیته

(7) ټکلۍ

**ټپه:-** دې ته لنډۍ هم وائي۔ دا ټپې په وئیلو سره اکثر اوږد ټپ شي ځکه ورته ټپه وائي۔ دا د ځنځو زړونو ټپار دی۔ ټپه وئیلې کیږي مصرعه وطلب دا دي چې قلعه د دوؤ مسرانو میڅ ~~سړي~~ کښې خبره کیږي او په هغې کښې وائي چې ثبوت ورانبي ئې لویه هغې کښې ټپه وائي په دې کښې دوه مصرعې وي یو لنډه او دویمه اوږده وي۔

اوس د مثال په توګه یو څو ټپې وړاندې کوؤ:

ــــ په نوره لید کښې به ناري کړم
څه د دنیا نه ارمانې د داغلي یمه

ــــ جانان د مور او پلاره یو دی
ځکه چې اوسیګي د نیاز بینو سترګو زینه

ــــ سړي په نوم نه سړي کیږي
سړي هغه وي چې ئې قار د سړو وینه

ــــ ځانانه ورته لوګي مائي
ځاماته په جانان پر راغلي دینه

DATE: ______ DAY: ______

## 2 لوبه:-

د پښتو اولسي ادب دوهم مشهور صنف دی.
لوبه اکثر د خوشحالۍ په وخت ویلې کیږي، د خوښو په آواز ویلې کیږي او لوبه اکثر د ټنګ ټکور سره ویلې کیږي.

په لوبه کښې پیله دوه مصرعو ته سرویلې کیږي وریسې دری هم قافیه مصرعې وي، څلورمه مصرعه د سر دوهمې مصرعې په وزن وي او پینځمه مصرعه د سر د دویمې مصرعې تکرار وي.

**اوس د مثال په توګه یو لوبه وړاندې کوو:**

ستا د خانۍ په قلي راغي مې سیلاب ملکه
شي به خراب ملکه
ستا د خانۍ قلي برباد وینه
د غریبانو کور آباد وینه
غیرت خبتي واوره په فریاد وینه
ستا له خیاله و وځي به راشي انقلاب ملکه
شي به خراب ملکه

## 3 سندره:-

سندره او لوبه کښې معمولي فرق دی. په سندره کښې پیله مصره لنډه وي او دویمه مصرعه اوږده وي پیا وریسې دری هم قافیه مصرعې وي. مثلاً:

ځما صنم د خاپیرو کړي اختیار دی
زړګی مې بې قراره دی اوس غواړم دیدونه
ځما صنم کړي سنبال د خاپیرو دی
وحسن څنګ په ټول جهان د خاپیرو دی

DATE:

موږ کې پېژوان ئې او پېژاند خه په نخرو دې
بل ئې په غاړه کښې د سرو یاقوتو هار دې
زړګي مې بې قراره دی او س غرام د پرونه

## ۶ بدله :-

بدله د اولسي ادب لکه د ټپې مقبول صنف دی کوم چې د مثنوی په ډول وي خو د هر یو مصرع قافیه د بل نه بدله وي- د راځئ اوس د مثال په توګه بدله وړاندې کړو.

یوه قیصه درته کوم د ګل په رنګ
چې د لرې شي د خوګ زړګي نه زنګ
د اکبر په زمانه کښې زمانه
یو عاشق وو خبروم دې په دا حواله
کورنې وو د ترلانزی نه کلی نه برو
چې اوس بېګلې د نه ځوان د غرو له سره
ده یو دوه سپي وو ساتلي مزېدار
محبت ئې ورسره کوو بسیار
سپو ته ډېر کې اصیله وې د ښکار
چې ښکار له به ئې کوو په لار ې ادو
ښکار د ښیر یا نو ې ی ترخوګ شو
د اوازه سره ئې زړه اتک تلک شو

## د ټیمکۍ :-

دا د اولسي ادب زړه یو ډول صنف دی- په ټیمکۍ کښې یو مصره همېشه لنډه وي او کومه چې لنډه وي نو هغه په Repeat کېږي- ټیمکۍ اکثر د خوشحالۍ

DATE:________ DAY:________

په موضوع وئیلې کیږي کوم کښې چې د عشق او محبت
موضوع څرګندیږي شي او اکثر د دوه وئیلو منځ کښې
د سوال او جواب څخه کار کوي. مثلاً:

زه چې په څخو څخو ځار شم
د بې خانه ولې
ځان مې په کور او در اوګرځوونه
ولې.
چې ځان چې پیدا شوم په چا راشوم
ولې
په دنیا خو نصیب په چا نه شو
ولې
د غمو ستړو کوم په من داغله
ولې
په غمو غمو د نه کوي واسپړینه.
ولې

## د چاربیته:-

چاربیته لکه د ټپې زړه راښکونکې او مقبول
صنف دی د کوم چې مختلف قسمونه دي لکه "ګرویږ"
او "زنځیري". په چاربیته کښې څلور بیتونه
وي. پیله دوه مصرې ته سر وئیلې شي. ورپسې
دریم قافیه مصرې وي او څلورمه مصرې د
سرې په وزن وي.

د بیاره د ته او ایله منم چرته دي
ځان د ستړو کو تور د زړه مې هم چرته دي
موده اوشوه چې زه د مینې یار نه محروم شم

د خپل زخمي زړګي ګرار نه وينم
ګل رنګه ګل رخسار او ګل عذار نه وينم
بې مطلبه دا روګر ځما غم څېړنه دي
زما د سترګو نور د زلمۀ مرهم جوړنه دي.

## بګټۍ :- 7

بګټۍ د اولسي ادب زوړ او مشترک صنف دی. چې نوي شاعران يې اوس نه استعمالوي. دلته په بدله او چاربيته کښې بدله شوې ده. د ويلو انداز يې جذباتي دی مستانه دی او اکثر پکښې د عشق او محبت موضوع څېړلې شي. لکه څنګه چې يو بدله ده:

د ماز يګر او لوله مسه په ځورو راځي
شورې په منګرو راځي
د ماز يګر او لوله لاړه
ښځې صراحي غندل يې ناره
مېنه امن د سر خواله
د سهېلو ورېښې په لاره د ستورو راځي
شورې د منګرو راځي

*———*———*

سوال نمبره د پښتو باره کښې دوه برزیار نظريات دي. دوه مره نظريات د پوقوم باره کښې هم لښته چې څومره د پښتو باره کښې دي چې پښتانه څوک دي. او د دې وجه دا ده چې د پښتو پښتانه په تاريخ کښې اکثريت

نشوي دي - پښتانه خو دعوا کوي چې مونږ
۶۰۰۰ کاله زوړ یو او ۵۰۰۰ کاله زوړ یو خو حقیقت
دا دی چې پښتانه پښتو ورومبي شعر امیر
کروړ په ۱۳۹ھ کښې ~~لیکلی~~ لیکلی او د پښتو د
نثر وړومبي کتاب په ۲۲۳ھ کښې لیکلی د کوم
نوم چې "دخالو وګټه" دی او محمد هاشم خرواني
لیکلی دی. زمونږ دعوی خو زرګونو کالو
ده خو چې مونږ سره کوم تاریخي شواهد موجود دي
نو هغه د ۱۳۰۰ کالو نه زیاړه نه دي.

اوس د پښتو باره کښې ډیرې نظرې
دي یا چې پښتانه څوک دي څوک وائي چې پښتانه
د حضرت قطوره اولاد دي کوم چې د حضرت
ابراهیم ؑ میرمن ده - څوک وائي چې پښتانه سامي
قوم دي. د یلي نظري مطابق پښتانه اریا دي.
څوک وائي چې پښتانه اسرائیل دي څوک وائي
چې پښتانه یوناني النسل دي - څوک وائي چې
پښتو تعلق وسطي ایشیا سره دي - خو چې کومې
نظرې د ټولو نظریونه زیاته عوامي پذیرائي
ملو شوي ده هغه دا ده چې پښتانه بني اسرائیل
دي د کوم ذکر چې د ملا نعمت الله هروي
کتاب "تاریخ خان جهاني مخزن افغاني" کښې
شوي دي او ~~یو~~ نورو مشرانو او صاحب العلم
خلقو د دې بني اسرائیل نظرئې ملاتړ کړي دي.
لکه څنګه چې خوشحال خان خټک په خپل یو

شجره کښي وايي

په سنا ګسرت باندې يې ختمه دا وينا ده

چې په اصل د يعقوب قوم و ټبر دي

اوس د خوشحال بابا د شعر د پښتنو پاره کښي د صحيفې
حيثيت لري ځکه چې هغه وخت کښي د بحث لا پيدا
شوي هم نه وه چې پښتانه څوک دي چې خوشحال خان
خټک دا اوئيل چې پښتانه بني اسرائيل دي۔
د پښتنو پاره کښي چې پښتانه بني اسرائيل دي نور دليلونه
دالاندې بحث شوي۔

افضل خان خټک په خپل کتاب کښي "تاريخ
مرصع" کښي ليکلي دي چې پښتانه بني اسرائيل
دي۔

حافظ رحمت خان روهيله په خپل
کتاب خلاصة الانساب کښي دا ليکلي چې پښتانه
بني اسرائيل دي۔

دې نه علاوه زردار خان په خپل کتاب
"صولت افغاني"، عبدالجبار په خپل کتاب "بني اسرائيل
يا ملت افغانه"، قاضي عطاالله جان په خپل کتاب
"د پښتنو تاريخ" کښي د ذخيره په مختلفو الفاظو
کښي ذکر کړي۔

يو مشهور مستشرق "سر ويليم جونز"
هم دې قائل دي چې پښتانه بني اسرائيل دي.

لحاظ د تاريخ شواهدو دلائلو علمي ثبوته
ثبوتونو په نتيجه کښي په دې دلائل ورسيدو چې

پښتانه بني اسرائيل دي۔

---

## س 8 ناول څه ته وايي:-

د ناول معنی ده عجيبه شي کوم چې د لاطيني ژبې ټکي دي۔ په ادب کښې ناول د انسان هغه جزباتو ته وايي د کوم په اظهار چې ورسره د انسان همدردي پيدا شي۔ ناول د انسان د ژوند هڅول او خوند پيدا کوي۔

## د ناول عناصر:-

د لاندينيو عناصر چې را يوځای شي نو لوڅه ناول جوړ دي:

(1) پلاټ (2) قيصه (3) کردار نګاري
(4) جزبات نګاري (5) ماحول (6) مقالمه
(7) بيان

## د ناول تاريخ:-

د ناول اغاز په لسمه صدی کښې په يورپ کښې شوي - او د انګريزي ژبې نه اردو ته منتقل شوې - په يورپ کښې ناول د تفريح او حالاتو سموون دواړو مقصد د پاره ليکلي شوي -

## پښتو ادب کښې د ناول ارتقاء:-

په پښتو کښې چې کوم اولني ناول ليکلي شوي دي د هغې نوم "نتيجه عشق" دی کوم چې سيد راحت زاخيلي په ۱۹۱۲ کښې ليکلی دې۔ بيا په ۱۹۳۹ء کښې نور محمد ترکي د "بې ترببه"

ژوې" په نوم ناول او لیکلو۔ دې نه پس د بېره موده
په پښتو کښې ناول نه دی لیکلې شوې بیا په ۱۹۵۵ء
کښې صاحبزاده محمد ادریس د "پیغله" په نوم ناول
او لیکلو۔ دې نه پس امیر حمزه خان شینواري
"نوې چپې" په نوم ناول او لیکلو۔ بیا په ۱۹۶۳ء کښې
سید رسول رسا صیب څلور ناولونه اولیکل کوم
چې دا دي: مغرور، ماموني، شمع او خودکشي۔
بیا په ۱۹۷۲ء کښې یو بل مکمل او [illegible] ښکلولې
ناول شیر زمان طائزي صیب اولیکلو د کوم نوم چې
"ډکل خان" دې۔ دې نه پس په پښتو کښې
ګڼ شمېر ناولونه اولیکلې شو۔ بیا محمد حسن
خلیل ئو هم ناولونه اولیکل کوم چې په غم وه کوږ،
فکر وه کوږ، اسره وه کوږ، سیاست وه کوږ، عکس
انعکاس، هیرو او مس یونیورس مشتمل دي۔ دې
نه علاوه ګڼ شمېر ناولونه پښتو ته د نورو
ژبو نه ترجمه شوې هم دي۔ چې بکښې په اول نمبر
د ډپټي نظیر احمد د اردو نه ترجمه شوې ناول "مرآة
العروس" دې چې په پښتو کښې په "نقش نګین"
نوم یاد دې یا دیږي او ترجمان ئې میاں حسن
ګل کاکاخیل دې۔ د نقش نګین نه پس په ۱۹۵۸ء
کښې د ډپټي نظیر احمد یو بل ناول "توبة النصوح" پښتو
ته ترجمه شو۔ بیا په کال ۱۸۷۷ء کښې د جان
بنین انګریزي ناول "[illegible]" د "سیر السالکین"
په نوم قاضي عبد الرحمان [illegible] دي لي

پې مصر لېږنتو نه ترجمه کړې - د دې نه علاوه
په ۱۹۳۹ء کښې د قاضي عبدالرحمان ترجمه شوې
ناول "په پنهه دېږو پلنې" چاپ شوې او د دې نه
علاوه د "قالهوقلا" په نوم د جنګ بېلېږه ناول
پښتو ته ترجمه شوې او نور هم کښن شمېر ناولونه
لیکلي او ترجمه شوې دي۔

* ———— * ———— *

## س ۴ د غني خان ابتدائي ژوند:-

غني خان په کال ۱۹۱۴ء کښې د چارسدې
په اتمانزو کلي کښې د فخر افغان خان عبدالغفار
خان عرف باچاخان بابا کره زېږېدلې وو۔
ده ابتدائي تعلیم د پېښور نېشنل هائي سکول
نه حاصل کړو او میټرک ئې د اتمانزو
هائي سکول نه پاس کړو بیا د وړاندې تعلیم
دپاره هغه جامعه ملیه دهلي ته لاړو۔ بیا په
۱۹۲۸ء کښې د انډیا افس په وساطت سره
انګلستان ته لاړو خو هلته ئې زړه اونه لګیدو او
لندن نه په ۱۹۳۱ کښې د کیمیکل انجنیرنګ
تعلیم حاصلو لو دپاره امریکې ته لاړو۔
بیا په ۱۹۳۳ء کښې په هندوستان شوګر ملز کښې
ئې د سپروائزر په حیثیت ملازمت اختیار
کړو - غني خان په ۱۹۴۵ء کښې د سر تېکنیکل
منیجر په حیثیت په تخت بهائي شوګر ملز کښې
کېږې شو خو سیاسي هلو ځلو کښې برخې

اغستو په وجه دې ملازمت ئې په کال ۱۹۴۳ء
کښې مستعفي شو. په کال ۱۹۴۲ء کښې ئې
ایلیکشن او ګټلو کښې چې خان صاحب
وزیر اعلی شو خو قائد اعظم ګورنر راج اولګولو
او غني خان د کال ۱۹۴۷ء نه تر کال ۱۹۵۴ء
پورې د هندوستان په مختلفو جیلونو کښې بندي
پاتې شو او هم په جیل کښې ئې د شعر دنیا
په پښتو شاهکار او مشهور کتاب د "پنجرو چغار"
او لیکلو او د پانه پس ئې "فانوس" او "پلوشې"
هم لیکلې. غني خان د شاعرۍ دنیا کښې د "لیونی
فلسفي" په نوم مشهور دی ځکه چې د ده شاعري
انداز د نورو نه بدل دی او د ده په شاعرۍ کښې
د حسن او عشق ډیر لوړ او جت مقام دی. ده د
پښتنو تاریخ باره کښې "دی پټهانز" نومې کتاب
هم لیکلی.

## د غني خان د شاعرۍ اهم خزانه:-

1) تصوف
2) فلسفه
3) د فطرت بیان

## د غني خان فلسفه:-

غني خان د پښتو ادب لوی فیلسوف دی. دی
د ارسطو او د سقراط د فلسفو نفي کوي او وائي چې
دا خلک ډیر قابل او عقلمند خلک دي خو د الله
ذات ته بیا هم او نه رسیږي. د غني خان فلسفه

Date: ____________

دا ده چې د حسن او د مینې پلار الله ته ذوز رسوي
او بې تکلفانه ګفتګو ور سره کوي او همدغه خبرې الله
تعالی سره کوي د کوم خبرو اظهار چې په عام طور
خلک الله سره نه کوي - د غني خان پیچان
هم "عجیبه فلسفه" ده کوم کښې چې غني خان دریابسره
دري رکتونو ته مخاطب دی او مقابله ور سره کوي
په اول نمبر وائي چې علماء ډیر با اثر خلک دي دي په دویم
نمبر قاضي سره بحث کوي او په دریم نمبر د لو دانشور
سره بحث کوي او د الله د ذات په باره کښې ترې نه
سوالونه کوي پلکه چې وائي
زړه مې وا چو په تال کښې د ملا کوچې له لاړم
د ملا په شپو مې کښېنودو او ډیل دا مې صدقه ده
ملا منع زمانه وا او خوائي دا څه دي سترا په لاس کښې
نه پلاو دي نه غوړي ده نه حلوه نه فالوده ده
وائي شر ظاهر کوي او په ظاهره نه فاسق ئي
دا د رب سره د مینې ټار اغستې خه قیصه ده
وغیره وغیره دغه ډول د ایمان اصلي حصه ده
د جنون او د جنان سره اخته مجهله فلسفه ده